AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر ش میره کی

۲۰۲۶/۰۳/۰۴

# که دا ستونزې ولرئ نو د زړه تکلیف لرئ

ګرانو دوستانو ! یو ور ځ مخکې هم یو معلومات مې د زړه د ناروغي په باره کې لیکلی وو ، یعني ځنګه پوه شو ځ ه دزړه په ناروغي اخته یو ؟ او دا واري یو بل معلومات مه هم په دې هکله پیدا کړ ، او ستاسو کولی شي لاندې و لولي.

ځېړنه : که دا ستونزې ولرئ نو د زړه تکلیف لرئ

ABC خبري شبکې د یو شمېر هغو ستونزو لړ لیک خپور کړی ده ، چې د زړه تکلیف نښې یې بللي شو. ځېړنه دا همزیاتوي کوم وګړي، چې د زړه تکلیف یا ناروغي لري لومړی له دې ستونزو سره مخ شوي وي.

کوم کس یو له دی ستونزو سره مخ شي دا له ګواښه ډکه خبره ده او سمدلاسه باید اړوند ډاکټر ته ځان ورسولشي، دد ې ستونزو ځیني اړین ځیزونه په دې توګه دي:

دوامداره سټریا :

ځیني وګړي له سټریا او سختې ستونزې سره مخ وي ، دوی فکر کوي،چې دا طبیعي خبره ده او شېبه وروسته به ل ه منځه ولاړه شي، خو په حقیقت کې دوامداره سټریا د زړه د تکلیف یا ناروغی نښه ده، که کوم کس له دروند کار او بې لامله د سټریا احساس وکړ ، باید سمدلاسه ډاکټر ته ولاړ شي .

دپښو پړسوب :

کېدای شي د حمل ، مزل ، د اوږدې مودې لپاره درېدل د پښو د پړسوب لامل وي ، خو دا هم امکان لري، چې زړه پهسمه او فعاله توګه نه شي کولای ،چې د پښو لور ته وینه پمپ کړي، دا هم امکان لري، چې د زړه والونه په سمه بڼه خپله دنده نه شي تر سره کولای .

سر ګرځېدل :

د سر ګرځېدلو یو لامل دا هم دی،چې غوړونه له ستونزې سره مخ شوي وي، خو یو لامل یې دا هم دی،چې د زړه کوم رګ بند شوی دی.

په سختی تنفس / ساه اخیستل :

ددې ستونزې یو لامل دا هم دی،چې زړه له کومې ستونزې سره مخ دی او یا د وینې پمپ کولو ځواک یې له لاسهور کړی دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خپګان :

خپګان د زړه له ناروغیو سره کلک تړاو لري، رواني روغتیا پر فزیکي روغتیا سیده اغیز پریباسي ، یو شمېر څېړن و دا پهګوته کړې ده ، کوم وګړي،چې د زړه ناروغي لري دوی لومړی له سخت خپګان سره مخ شوي دي او بیا یې خبره دېپراو ته رسیدلې ده.

نیم سري :

که کوم کس نیم سري لري او د زړه ضربان / درزا یې زیاته شي باید سمدلاسه ډاکټر ته ولاړ شي، دا ددې مانا ورکوي ،چې د زړه والونه یې له ستونزې سره مخ شوي دي.

ناارامي، خوله ، زړه بدی :

که چیرې یو کس په یوه وخت کې له دې دری ستونزو سره مخ شي باید سمدلاسه ډاکټر ته ولاړ شي ځکه دا د زړه دحملې مانا لري.





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ